# د سوات منتخب پښتو ناولونو کښې د پښتني تهذيب مطالعه

# A study of Pashtun civilization in selected Pashto novels of swat

Issn 2304-1463

Ijaz Ali*

Zarakafghan36@gmail.com

Dr Syed Zafar Ullah Bakhshali†

Zafarbakhshali@awkum.edu.pk

**Abstract**

Swat is a famous and historical valley of Pakhtunkhwa. The region is known for its beauty and roots in antiquity. Historically, considering the various signs and traces, it might be argued that people of different civilizations have lived. It has also been the center of Pashto language and literature for many centuries. Along with a number of poetic works, historical books, collections of short fictional narratives, and anthologies, Pashto novels have been written in swat till this day. This research includes nine novels of swat which are Naway jwand,lawaz,khwakhi ingor,ajarra,gulalai,Da seend fa gharra tagi,Toruna sazakhtuna,zalanda armanona,and Ghazi,.From these novels, in the research, materials has been drawn and analyzed relating to the Pashtun culture and civilization. In the selected novels of swat, a profound reflection of Pashtun civilization can be seen. Different facets of Pashtun life have been mirrored in these novels. Traces of Pashtun civilization can also be found in the novels of swat. Similarly, we also observe portraits of Pashtun civilization in the selected novels of swat in this research project, different names of Pashtun culture and civilization has been investigated and analyzed.

**Key words:** Pashto literature, swat, Pashto novels, swat Pashtun civilization, Pashtun culture swat.

سوات چې د پښتونخوا وطن تاريخي او مشهوره ضلع ده دا سيمه د خپل لرغونتوب او قدرتي ښائست له وجې ډېره مشهوره ده سوات د تهذيبونو خاوره ده دلته د تاريخ په اوږدو کښې بيلا بيل قامونه او مذهبونه پاتې شوي دي هم دا وجه ده چې سوات د تاريخ پوهانو ،بشر پوهانو

* MPhil Scholar Department of Pashto AWKUM
† Assistant Prof Department of Pashto AWKUM

او د ارکیالوجي د ماهرینو د توجه مرکز ګرځېدلے دے سوات ته ګڼ شمېر خلق د بهر هېوادونو نه د خپلو مقدس ځایونو د لیدلو کتلو دپاره راځي دغه رنګ د وطن میشت او د نورو ملکونو خلق سوات د سېل دپاره هم راځي سوات په مختلفو وختونو کښې په څو نومونو یاد شوے دے په دې حقله خېرالحکیم حکیمزے داسې لیکي

"ہندوں کی مذہبی کتاب رگ وید میں سوات کو سواستو اور سولتاس کی نام سے یاد کیا گیا ہے یونانیوں نے بھی دو سال حکومت کی ہے اور اپنی کتابوں میں سوات کو سویٹا لکھا ہے"۱

د دې نه علاوه دې سیمې ته سواد ،سواستو او ادهیانه هم وئیلي شوي دي تاریخي سوات په خپله لمن کښې ګڼ شمېر قامونه پاللي دي پوهانو دلته د مختلفو قبیلو او مذهبونو ذکر کړے دے په دې سیمه د ایراني تهذیب د خلقو حکومت او د اشوري خاندان حکومتونه هم تېر شوي دي په دې حقله ډاکټر محمد علي دینا خېل داسې لیکي

کله چې په ۲۰۰ ق م کښې په وادي سوات کښې د اشوري خاندان حکومت پائي ته ورسېدو نو ورپسې سمدستي په دې علاقه د ایران د میدین قوم حکومت راغے په دې زمکه د خسرو د زمانې ۴۸۰ ق م کتبې او ډېر لیکونه موندل شوي دي پانیني په ۴۳۷ ق م کښې دلته د میدین قوم وجود ښائي داسې ښکاري چې د یونانیانو تر راتلو ۳۲۷ ق م پورې تقریبا درې سوه کاله په دې علاقو د ایرانیانو اقتدار پاتې شوے دے"۲

د دې وروستو د ګندهارا تهذیب دور دے کوم چې تر ډېره وخته دلته پاتې شوے دے د ګندهارا تهذیب اثار او نخښې نخښانې زرګونه کاله پس نن هم د سوات په ډېرو علاقو بریکوټ،شنګردار،بتکړه،جهان اباد،او نورو ځایونو کښې په نظر راځي د ګندهارا تهذیب په حقله بخت تاج په خپل کتاب "قدیم سوات کے حجرے تہذیب اور ثقافت تاریخ کے ائینے میں" کښې داسې لیکي

"سوات سے دریافت شدہ مٹی کے مجسموں اور مہروں پر تراش شدہ تصاویر سے اندازہ لگایا جاسکتا ہے قدیم اثار سے ملنے والے یہ نمونے ہمیں بدھ مت کے قیمتی معلومات اور ان کی سوات رہنے کے تاریخ

پیش کرتا ہے جو تین ہزار سال کم و بیش تھا اس سے یہ شواہد بھی ملے ہیں کہ گوتم بدھ نے پینتالیس سال بدھ مت کی تبلیغ کی اور ۸۰ سال کی عمر پائی اثار سے یہ بھی معلوم ہوا ہے کہ اس نے ۴۸۳ ق م میں انتقال کر گیا اور زیادہ تر خانقاہیں وادی سوات میں دریافت ہو چکی ہیں" ۳

د هندو مت دور دلته د محمود غزنوي د لښکرو د راتلو سره ختم شوے دے د محمود غزنوي د لښکرو سوات ته د راتلو سره د دې سیمې خلقو ایمان راوړے دے او په اسلام کښې داخل شوي دي د دې لښکرو سره سوات د سواتي قبیلي او دله زاک قبیلي خلق هم راغلي وۀ چې بیا وروستو د دله زاک قبیلي خلق پېښور او خوا شا علاقو ته لاړو او په دې سیمه د سواتي قبیلې د حکمرانانو بادشاهي وه چې مشهور بادشاه ئې سلطان اویس وۀ په شپاړسمه صدۍ عیسوۍ کښې دلته یوسفزي راغلي دي او د سواتي قبیلې خلق ئې له دې ځایه په تېښته مجبوره کړي دي تر ډېره وخته په سوات کښې یوسفزي بغېر د کوم حکومت او بادشاه د حکم او تسلط زیر اثر پاتې شو دې دور ته د پښتو دور وائي بیا ورستو د سید اکبر شاه حکومت جوړ شو د ده د مرګ نه پس ئې زوے سیدمبارک شاه د لګ وخت دپاره د بادشاهۍ په تخت ناست وۀ په کال ۱۹۱۵ء کښې د سوات بادشاهي سید عبدالجبار شاه ته وسپارلے شوه په ۱۹۱۷ء کښې د سوات د مشرۍ دستار میانګل عبدالودود ته په سر کړے شو او په کال ۱۹۴۹ء کښې د عبدالودود زوے میانګل عبدالحق جهانزېب د سوات والي جوړ کړے شو په کال ۱۹۶۹ء کښې سوات د پاکستان سره ضم کړے شو

ناول د اطاولوي ژبې ټکے دے چې معنیٰ ئې ده نوے او نا اشنا په ناول کښې د انساني ژوند عکاسي کېږي په ناولونو کښې مونږ انسان او د هغه د ژوند حالات او واقعات ګورو سوات کښې د پښتو اوولس ناولونه لیکلے شوي دي زمونږ په دې تحقیق کښې د سوات نهه ناولونه شامل دي چې پکښې د شېر محمد شېر "نوے ژوند او "لوظ" د محمد ابراهیم خان شبنم "خوابښې انړورر"، "اجړه"، او "ګلالۍ" د خېرالحکیم حکیمزي "د سیند په غاړه ترږي" د ډاکټر بدرالحکیم حکیمزي "تورونه سازښتونه" د عنایت الله یاسر "ځلنده ارمانونه" او د اشرف سحاب "غازي" شامل ناولونه دي

پښتنې تهذیب د پښتنو پښتنولي ده په پښتنولۍ کښې پښتون ثقافت،پښتنې تمدن او پښتنې تهذیب درېواړه راځي لکه جرګه،بدل،پېغور،ننواتې او تیګه پښتون ثقافت دے حجره او جومات پښتنې تمدن دے مېلمستیا،لوظ،انصاف،رښتیا وئېل او پناه ورکول پښتون تهذیب دے د پښتنولۍ او پښتون تهذیب په حقله پرویش شاهین داسې لیکي

"پشتنولی جو کہ پشتون ثقافت،تمدن اور تہذیب کا ایک با اور نام ہے جس کی اندر پشتون کی پوری کی پوری زندگی ایک روح کی طرح روبہ عمل ہے در حقیقت یہی پشتنولی ہی ہے جو اصلی، سچی اور کھرے معنوں میں پشتون سے پشتون بنا دیتی ہے کیونکہ جب بھی کوئی پشتون پشتنولی سے ہاتھ دھو بیٹھتا ہے تو وہ بہ مثال ایک بے روح جسم کے بنتا ہے یہی پشتنولی پوری دنیا میں ایک پشتون کی پہچان،شناخت اور نام ہی بن جاتا ہے اور پشتون اسے پشتنولی کے سچے اقدار اور عمل کی وجہ سے پشتون گرانتا ہے"۴

د سوات منتخب پښتو ناولونو کښې د پښتني ثقافت،پښتني تمدن او پښتني تهذیب پلټنه کوؤ او تجزیه ئې کوؤ

## ثقافت

د ثقافت لپاره په انګرېزۍ کښې لفظ کلچر مستعمل دے اردو کښې ورته ثقافت او پښتو کښې ورته کلتور وئیلے کېږي ثقافت د یو قام د ژوند تېرولو طریقې،دود دستور،او رسم و رواج ته وائي ثقافت د یوې ټولنې د وګړیو یو شان لباس،دودونو،رسمونو،رواجونو او غرض چې د یو قام شریکو خویونو،خصلتونو او عادتونو ته وئیلے شي د ثقافت متعلق ډاکټر بدرالحکیم حکیمزے داسې لیکي

" ثقافت کسے قوم کے اخلاقی اقدار،سماجی رویوں،تصورات،نفسیات،رسم ورواج اور رہن سہن کے طریقوں کو کہا جاتا ہے"۵

په ثقافت کښې د انسان چاپېریال،اقتصاد،مذهب او د ژوند تجربې شاملې وي او وګړي هم د دې اصولو په رڼا کښې د خپل ژوند حدود متعین کوي هر قام د خپلو روایاتو،مذهبي عقیدو،جغرافیې او معاشي وسیلو مطابق ثقافتي عناصر لري

ثقافت د يو قام بنيادي ضرورت دے انسان د ژبړون نه واخله تر مرګه پورې ټولنې او ثقافت ته احتياج لري انسان مذهب او ثقافت ته يو رنګ ضرورت لري ماشوم چې پيدا شي نو په غوږ کښې ورته بانګ وئيل زمونږ اسلامي روايت دے خو د ماشوم په زېږون خوشحالي کول مبارکۍ اخستل خوارِه وېشل د پښتون ثقافت برخه ده دغه رنګ چې کله څوک وفات شي نو ګور کفن اسلامي حکم او طور طريقه ده خو د غم ډوډۍ او لاسنيوه کول پښتون ثقافت دے په دې بنياد مونږ وئيلے شو چې د انسان ژوند د زېږون نه تر مرګه پورې د ثقافت د اقدارو او رواياتو سره تړلے دے د سوات په منتخب پښتو ناولونو کښې د پښتنو د ژوند ښه عکاسي شوي ده په ديو ناولونو کښې د پښتون ثقافت ګڼ شمېر عناصر ليدلے کېږي د شېر محمد شېر په ناولونو "نوے ژوند" او "لوظ" کښې د پښتني ثقافت ښه انځور ګري شوي ده چې پکښې د پښتون ثقافت لوظ،د رنځور پوښتنه،مېلمستيا ،روايتي خوراکونه،په ماشوم او زنانوؤ لاس نه اوچتول،شرم و حيا ،ګودر ،ښېګړه کول او څو نور د پښتون ثقافت نمونې په نظر راځي

لوظ د پښتون ثقافت يو وصف پښتانه چې کومه خبره وکړي نو بيا خپله کړي خبره نه بدلوي پښتون چې يو ځل کومه وعده وکړي نو په هر حال کښې ئې پوره کوي د پښتنو لوظونه کلک وي دا پښتون ثقافت دے د پښتنو د لوظ په حقله ډاکټر بدرالحکيم حکيمزے داسې ليکي

"وعدے کی پابندی افغان کی خون و خمیر میں شامل ہے نفع و نقصان اور ہر قسم کی نتائج کی پرواہ کی بغیر زبان اور وعدے کی پاسداری کرنا پشتون کی فطرت میں شامل ہے پشتون معاشرے میں زبان کی پاسداری کرنے والے بندے کو احترام سے دیکھا جاتا ہے اور وعدہ خلاف بندہ بے ژبے مشہور ہو کر اپنی عزت اور اعتماد کھو بیٹھتا ہے"٦

په ناول لوظ کښې چې کله ضمير خان دا خبره وکړي چې که چا هم زما لور په سيند کښې ژوندۍ اومونده نو هغې کس له به ئې په بخښنانه کښې ورکوم او که چا مړه بيا مونده نو زر روپۍ انعام به ورله ورکوم د ضمير خان لور شيرينۍ د هغه د دشمن عاقل خان زوے حميد په سيند کښې د بې هوشۍ په حالت کښې بياموميي د ډاکټر د علاج او په کور دننه د شيرينۍ د صحت د خيال ساتلو د وجې هغه په هوش کښې راشي او روغه جوړه شي څه خلق دا خبره هم خوره کړي چې د حميد او شيرينۍ يو بل خوښ وۀ

د کومې حقیقت چې ضمیر خان په خپله معلوم کړي ضمیر خان ته چې کله معلومه شي چې ماته رارسېدلي خبره دروغ ده نو سمدستي خپل لوظ پوره کړي او خپله لور د حمید کور ته په جنج کښې بوځي د ناول نه ئې نمونه وګورئ

"مامد= او کنه زمونږ خان بابا لوظ کړے وۀ او په پښتنو کښې هغه د يوې ژبې خاوند دے چې څه اووائي نو بيا بله نه کوي

صادق خان= مور ته په ګوټ کښې ناسته يې د څه نه خبر نه ئې دادا جي مې دا لوظ کړے وۀ که شيريني، چا ژوندی، اونيوله نو په بخښانه به ئې ورله ورکوم نو اوس به څنګه خپل لوظ مات کړي اخر پښتون والے دے" ۷

د محمد ابراهيم خان شبنم په ناولونو کښې هم د پښتون ثقافت ګڼ عناصر ليدلے کېږي د دوي په ناولونو "خوابښې انړور" ، "اجړه" ، او "ګلالۍ" کښې د پښتني ثقافت بشپړه عکاسي تر سترګو کېږي د پښتون ثقافت ډېرې نمونې چې پکښې د زوي په پېدا کېدو خوشحالي ،نيوکه، د ښځو درناوے ،د حجرې ننداري، وادۀ ،نکاح ،د ماشوم سنتول ،بدل ،قرباني ،ښېګړه ،د سر واک ،پېغور او موسيقي شامل ثقافتي عناصر دي

بدل د پښتون ثقافت يو عنصر دے پښتانه خپل بدل ضرور اخلي په ناول "اجړه"کښې د بدل په حقله دا نمونه وګورئ

"خشاکے" کاکاجي دا خو ډېره ښه موقع وه تا به ما ته وئيلي وۀ کنه اوس به مې د هغه د زوي نه بدل اخستے وۀ

لاجبر= بچيه دا د تادی او جوش خبره نۀ ده

اجړه= دا بدله به زۀ واخلم خو که چرته"۸

د خېرالحکيم حکيمزي په ناول "د سيند په غاړه ترږي" کښې او د ډاکټر بدرالحکيم حکيمزي په ناول "تورونه سازښتونه" کښې هم د پښتون ثقافت نمونې موجودي دي چې پکښې د پښتنو جامه پېزار ،روايتي خوراکونه ،د پښتنو حجره ،د ناروغه تپوس ،نکاح ،د اختر مېلې ،د خوشحالو مبارکۍ ورکول ،او څو نور توکي شامل دي

د رنځور پوښتنه کول د پښتنولۍ برخه ده د ناول "د سیند په غاړه تږي" نه ئې دا نمونه وګورئ

"د رواج سره سم ئې د چم ګاونډ ښځې تپوس له راغلې بونړۍ ببۍ ئې هم تپوس له راغله د هغې سره ئې نمسۍ شیرینۍ هم راغله د شیرینۍ نیا بونړۍ ببۍ په هفته کښې یو ځل د نامدار د مور تپوس له راځي"۹

د عنایت الله یاسر ناول "ځلنده ارمانونه" او د اشرف سحاب ناول "غازي" هم د پښتون ثقافت نمونې لري چې پکښې د پښتنو مېلمستیا ،موسیقي،لوظ او پېغور شامل دي

پېغور د چا د شرم خبره هغه سړي ته د طعنې ورکولو دپاره وئیلو ته وائي پښتانه په پېغور ډېر خفه کېږي پښتنو د پېغور ورکوؤنکي سړي سره هم اکثر جنګ او دشمنۍ کړي دي د پېغور یو مثبت اړخ دا هم دے چې پښتانه ناوړه او بد کارونه د وس لرلو او موقعې برابرېدو باوجود هم د پېغور له وېرې نه کوي پېغور د پښتون ثقافت برخه ده

د ناول غازي نه د پېغور په حقله دا نمونه وګورئ

"ګل پري حېرانه وه چې د هغې د ژوند دومره لویه فیصله د هغې د مرضۍ نه بغېر څنګه کېدله د سمین خان سره لیدلي خوبونه به لکه د ائین ماتېږي هغې سوچ وکړو خو د پېغور له وېرې د هغې پلار خپله فیصله واوروله دا جینۍ ستا د بچي چمني خان شوه"۱۰

## تمدن

د تمدن معنیٰ ښار جوړل،ښار ابادول،ښاري ژوند اختیارول دي د تمدن تعلق د ښار د ژوند سره دے چې کله انسانان په ښار کښې ژوند کوي مختلف کارونه او روزګارونه کوي د ژوند سره تړلي بیلابېل الات او اوزار جوړوي د کپړو او لوښو جوړولو کارخانې وي د سوداګانو مارکیټونه وي

سکولونه او هسپتالونه وي عدالت او قانون وي او د ژوند د تېرولو دپاره هره شعبه،هره اداره او هر سهولت وي نو دا ښار وي او ښاري ژوند وي د تمدن متعلق سعیده ارم داسې لیکي

" تمدن کی معنی کسی جغرافیائی وحدت میں رہنے والے افراد کی طرز زندگی کے ہیں کیونکہ وہ افراد جو کسی شہر یا جغرافیائی وحدت میں رہتے ہیں اپنی ایک الگ تمدنی شناخت رکھتے ہیں ابن خلدون اور سپنگلر نے تمدن کو شہری زندگی تک محدود کر دیا ہے "۱۱

په نظر راتلونکي په زرګونو څیزونه چې انسان په خپل لاس یا د مشین په زریعه د خپل ضرورت او ژوند تېرولو دپاره جوړ کړي دي نو دا تمدن دے قدرت جوړ کړي هر څه لکه غرونه،سیندونه،سپوږمۍ او نور ډېر مظاهر د تمدن برخه نهٔ دي زمونږ په ټولنه کښې چې د ژوند د استعمال دپاره کوم اوزار،الات،مشینري،کورونه،سړکونه،ګاډي،جامې پېزار،لوښي لرګي،سکولونه هسپتالونه او په نظر راتلونکي نور ګڼ شمېر څیزونه چې وجود لري نو دا زمونږ تمدن دے

د سوات منتخب پښتو ناولونو کښې د تمدن څرکونه هم شته په ناولونو کښې د ټولنې د تمدن نخښې نخښانې لیدلے کېږي د شېر محمد شېر په ناولونو "نوے ژوند" او "لوظ" کښې د پښتون تمدن سکول،د پولیس تهانه،ګاډي او اډه،هوټلونه،بازارونه،دکانونه،جاله،حجره،جومات، او څو نور شامل دي حجره د پښتون تهذیب یو اهم باب دے حجره د پښتنو د ناستې پاستې ځاے دے دلته مېلمانه راځي جرګې مرکې کېږي د غم او ښادۍ مېلمانه پکښې عزر کېږي کشران پکښې د مشرانو نه خپل روایات او اقدار ذدهٔ کوي او د خوشحالۍ او وخت تېري دپاره پکښې موسیقي هم کولے شي د حجرې ودانې د پښتون تمدن برخه ده د ناول "لوظ" نه د حجرې په حقله دا نمونه وګورئ

"عظیم خان چې ډوډۍ اوخوړه او حجرې ته لاړ شو نو د ظریف خان ماماګان عزیز خان او محبت خان راغلي وؤ ناست وؤ

ضمیر خان خان د حجرې په کوټه کښې لارې غاړې ته د دېوال په خوا کښې
پورې په کټ کښې ډډه اووهله څوک چې به په لاره اوړېدل نو د هغوي خبرې
به ده په دروازه کښې اورېدلې

چې نیمه شپه شوه او په حجره کښې ناست خلق دم شول نو ضمیر خان رااوتو
او په یوه مخه لاړ شه"۱۲

د محمد ابراهیم خان شبنم په ناولونو "خوابښې انړور"، "اجړه" او "ګلالۍ" کښې هم د تمدن نخښې مونږ لیدے شو د دوي په ناولونو کښې عدالت، تهانه، ریډیو ،بلب، کالج، سکول او سړک دي

سکول کښې ماشومان سبقونه وائي سکول هم زمونږ تمدن دے په ناول "ګلالۍ" کښې د سکول یوه ننداره وګورئ

"موسم نن ډېر ښائسته دے رنګین شانې سحر دے نمر معمولي غوندي د
غرونو په سرونو د سرو زرو زېړه خوندوره څېره کړې ده او کلي طرفته راروانه
ده هلکان د سکول د تلو په انتظار دي د سړک په غاړه د یو بل منتظر دي
سکول د کریم خان دکلي نه دوه میله لرې دے خو دا هغه وخت دے چې
سوارلۍ ډېرې کمې ملاوېږي او د سکول ماشومان پېدل تګ کوي کریم خان
خپله بسته ترخ ته اچولې ده او ولاړ دے"۱۳

د خېرالحکیم حکیمزي ناول "د سیند په غاړه تږي" او د ډاکټر بدرالحکیم حکیمزي ناول "تورونه سازښتونه"کښې هم د تمدن څو نمونې شتهٔ دے چې پکښې ګاډے، سړک، هسپتال، حجره، تهانه، د کرکیلي اوزار، شامل دي ګاډے او سړک هم زمونږ د تمدن برخه دي د خېرالحکیم حکیمزي د ناول "د سیند په غاړه تږي"کښې د ګاډي او سړک یوه نمونه وګورئ

"دا وخت نمر پوره اوچت راختلے وۀ تورماما زر کور ته راغے او زوي ته ئې
اووې سړک ته اوځه چرته سوزکے یا بل څه ګاډے راوله نامدار سړک ته اووتو

چې چرته ګاډے وګوري يو ڇچ سوزکے راغے دوي پلار او زوے ورسره کيناستل"۱۴

د عنايت الله ياسر په ناول "ځلنده ارمانونه" او د اشرف سحاب ناول "غازي" کښې هم د تمدن څو نمونې په نظر راځي چې پکښې کالج، هسپتال، فيکټري، سړک، دوکان، هوټل، شامل تمدني ځايونه دي

د هسپتال وداني هم زمونږ د تمدن حصه د ناول "ځلنده ارمانونه" نه د هسپتال په حقله دا نمونه وګورئ

"ډاکټر روښان خپل عملي ژوند شروع کړو او په لوے هسپتال کښې ډاکټر ولګېدو"۱۵

## تهذيب

تهذيب د عربۍ ژبې تورے دے چې ماده ئې هذب ده د تهذيب معنیٰ د ونې بوټي نه څانګې او ښاخونه وهل دي اصلاح کول، پاکول او شائستګي هم د تهذيب معنې دي

تهذيب د انساني ټولنې يو داسې نظام ته وائي چې هغه منظم وي د معاشرې د اجتماعي ژوند ضرورتونه پوره کوي تهذيب د انساني ټولنې يو همه ګير نظام ته وائي چې پکښې د انسان سره تړلي ټولې سرګرمۍ موجودي وي

په تهذيب کښې بنيادي درې عناصر وي مذهب، جغرافيه او ژبه دا درې عناصر يو تهذيب جوړوي د يو مذهب، ژبې او جغرافيې خلق يو شان عادات، اخلاق، نفسيات، رويې او جذبات لري د دوي رسمونه رواجونه يوشان وي عبادات ئې يوشان وي اقدار او روايات ئې يو رنګ وي د تهذيب په حقله ډاکټر بدرالحکيم حکيمزے داسې ليکي

تهذيب د هذب يعنې ښاخ تراشۍ نه وتلے دے چې په تمدن او ثقافت کښې د نفاست او ښکلا رنګونو او اړخونو ته وئيلے شي د معروض او داخلي ښکلا

یعنې د حسن او ذوق جمال مجموعې ته تهذیب وائي دا خبره بیخي په ډاګه ده چې هره انساني ټولنه تر ننې پرمختللي تمدني حالت ته په رارسېدو کښې د زرګونو ارتقائي پړاوؤنو نه راتېره شوې او دا سفر ئې د زرګونو کلونو په موجوده کښې تر ننه رارسولے دے پښتون هم د نړۍ یو قام دے چې هم دغه تمدني سفر ئې هم دغه شان په اوږده موده کښې ګام په ګام مخې ته بوتلے دے"۱۶

د شېر محمد شېر په ناولونو "نوے ژوند" او "لوظ" کښې د پښتون تهذیب ښه عکاسي زمونږ په وړاندې راځي د دوي په ناولونو کښې د پښتون تهذیب د نیوکي رسم ختمول، علم ته ښه وئېل، په بې وسه سړي زړۀ سېزل، ښېګړه کول، د بل د ښې سوچ کول، انسانیت خپلول، احسان او نیکي کول او څو نورې نمونې شتون لري په ناول لوظ کښې یو ډاکټر ډوډۍ ته ناست وي چې حمید خان ورپسې راشي او د شیرینې د علاج په غرض ورسره خپل کور ته د سمدستي تللو اووائي نو ډاکټر د تیارې ډوډۍ نه په نیمګړه کښې پاسي او د حمید سره روان شي د ډاکټر دا عمل تهذیب دے دا د انسان د بچ کېدو سوال دے دا د خلقو په سخت وخت کښې پکار راتلل دي دا احسان او نیکي کول دي د ناول لوظ نه د تهذیب دا نمونه وګورئ

"حمید خان=ډاکټر صاحب مریض ته تکلیف دے

ډاکټر= فکر مه کوه خدائے به خېر کړي

ډاکټر د ډوډۍ نه پاسېدو زر زر ئې په خپل بیګ کښې دوایانې کېښودې حمید خان ته ئې وې ځه چې ځو

په هغې مېلمنو کښې یو تن وۀ کریم خان ته ئې وې ښه دا ده چې ما ډاکټري نه ده کړې کنه ما ته خو د تیارې ډوډۍ نه پاسېدل ډېر ګران کار ښکاري"۱۷

د ابراهیم خان شبنم په ناولونو "خوابښې انړور"، "اجړه"، او "ګلالۍ" کښې هم د تهذیب کښې نمونې موجودي دي د شبنم په ناولونو کښې د پښتون تهذیب بشپړه عکاسي شوې ده د دوي په ناولونو کښې د انسان لوړ اخلاق، مثبت فکر، قرباني ورکول، د ښو په بدل کښې ښه کول، مینه پېدا

کول، نفرتونه ختمول او نورې ډېرې د تهذیب نمونې لیدلے کېږي په ناول "ګلالۍ" کښې د کریم خان خان او شیرینۍ په ماشوموالي رشته شوي وي خو ولې بیا وروستو د کریم خان ګلالۍ خوښه شي شیرینۍ پرېږدي او د ګلالۍ سره وادۀ وکړي بیا چې کله ګلالۍ د ماشوم کېدلو په وخت کښې په حق ورسي نو کریم خان یوائې بې څوکه او دردمند پاتې شي چې ورته د یو همدرد او ملګري ضرورت وي شیرینۍ د پلار او ورور په رضا او صلاح مشوره د کریم خان سره دویم وادۀ کولو ته غاړه کېږدي دا دشیرینۍ او دهغې د کورنۍ لوے والے وي د شیرینۍ دا قرباني ورکول تهذیب دے د ناول ګلالۍ نه په دې حقله دا نمونه وګورئ

"ښئستو= نو تا څه فیصله کړې ده یوه قرباني بله ورکوې ستا پشان څوک دې ته د چا نه کمه ئې رنګ دې ناکاره دے په کار نه پوهېږې دا خلق په تا ولې پښې اړدي

شیرینۍ= که ته هر څه وائې خو ما د قربانۍ لوظ کړے دے کریم ته د یو همدرد ضرورت دے او هغه

ښئستو= او هغه ته ئې بل څوک نه شي کېدے تا له خدا ے څنګ زړۀ درکړے دے

شیرینۍ= ښئستو د انسان اوچتوالے او لوئي دا ده چې د یو مظلوم، بیمار او مجبور انسان پکار راشي ما فیصله کړې ده چې کریم هر څه چې دے زما دے او زما به وي"۱۸

د خېرالحکیم حکیمزي په ناول " د سنید په غاړه تړي" کښې او د ډاکټر بدرالحکیم حکیمزي په ناول "تورونه سازښتونه" کښې هم د تهذیب ګڼې نمونې تر سترګو کېږي چې پکښې د بې وسه خلقو مدد کول، د حق سره ودرېدل، د ظالم خلاف کار کول، د مظلوم مرسته کول او څو نورې نمونې شتون لري په ناول تورونه سازښتونه کښې صحافي رشید د لښکر خان د کرپشن او ظلم و زور خلاف ثبوتونه پیش کوي رشید ځان سختي له ورکوي خو د زور او ظلم مخ نیوے کوي دا تهذیب دے دا د اولس سره ښېګړه ده د رشید صحافي دا عمل تهذیبي عمل دے د ناول تورونه سازښتونه نه ئې نمونه وګورئ

> "ځنګل له منزرو تش نه وي داسې ډېر خبريالان شتۀ چې د درغلو دنګې ماڼۍ ئې په لړزان کړي دي وړمه ورځ دې ورځ پاڼه کښې نه ليدل چې زمونږ ملګري رشيد په څومره هنر سره د لښکر خان توره څېره برڅېره کړي وه د هغه په خپلوانو او دوستانو د ګېس، سيمنټو ،او تېلو د پمپونو د اجازه نامو وېشل ئې په پوره هنر سره په ډاګه کړي وؤ او بيا د نوکرو خرڅلاو ئې په څومره ښه توګه سپړلے وۀ"۱۹

د عنايت الله ياسر په ناول "ځلنده ارمانونه" او د اشرف سحاب ناول "غازي" هم د تهذيب څو نمونې لري چې پکښې د خاوري او وطن سره مينه، د جنګ څخه نفرت، او د خپلې عهدې او اختيار مناسب استعمال دے

په ناول "ځلنده ارمانونه" کښې د جنګ څخه کرکه او د دنيا نه د جنګ ختمولو وئيلے شوي دي جنګ ختمول او د جنګ نه نفرت هم تهذيب دے امن تهذيب دے جنګ لوړه پېدا کوي جنګ بلا ده جنګ تياره ده جنګ جهالت دے جنګ تباهي ده په ناول "ځلنده ارمانونه" کښې د جنګ څخه د کرکې په حقله دا نمونه وګورئ

> " د دې ادارې په اختيار کښې به دا وي چې د دنيا د مخه د هر قسم نيوکليائي ايټمي وسلې مکمل خاتمه وکړي او د نېټو او نورو داسې فوځي معاهدو خاتمه د دې کونسل په اختياراتو او فرضو کښې شامل وي دا کونسل به د هر ملک ۸۰% فوځ او وسله ختموي د دنيا په هر ملک کښې به د فوجي حکومت تصور ختم شي چې فوج وي نو په دنيا کښې به بې امني او تباهي وي او دا د ټولو نه يو لوے غېر مهذب سوچ او فکر دے"۲۰

# حوالې


۱ حکیمزے، خیر الحکیم، بالائی سوات کی تاریخ، زاہد بشیر پرنٹرز، لاہور، ۲۰۲۰ء، صفحہ ۳۳

۲ دېنا خېل، محمد علي، ډاکټر، د سوات پښتو ادب او ثقافت، د افغانستان د علومو اکېډيمي، کابل، ۲۰۲۰ء، مخ ۵۷

۳ بخت تاج، قدیم سوات کے حجرے تہذیب اور ثقافت تاریخ کے آئینے میں، تاج کمپنی لمیٹیڈ، سٹی پلازہ، مینگورہ، ۲۰۱۷ء، صفحہ ۱۲

۴ حکیمزے، بدر الحکیم، ڈاکٹر، پښتنولی، ہشنغر خپر ندویہ ټولنہ، ۲۰۲۰ء، صفحہ ۵

۵ حکیمزے، بدر الحکیم، ڈاکٹر، پښتنولی، ہشنغر خپر ندویہ ټولنہ، ۲۰۲۰ء، صفحہ ۲۰

۶ حکیمزے، بدر الحکیم، ڈاکٹر، پښتنولی، محولہ بالا، صفحہ ۲۹

۷ شبر، محمد شبر، لوظ، ۱۹۶۶ء، مخ ۱۰۱، ۱۱۰، ۸۰

۸ شبنم، محمد ابراهیم خان، اجره، لاهور، حاجي حنیف اینډ سنز پرنټرز، ۱۹۹۴ء، مخ ۱۹، ۱۸

۹ وکیل حکیمزے، د سیند په غاړه تږي، پېښور، عامر پرنټ اینډ پبلشرز، ۲۰۱۶ء ۵۳، ۴۸

۱۰ اشرف سحاب، غازي، پېښور، کتاب کور، ۲۰۲۱ء، مخونه ۵۱، ۵۰، ۴۷

۱۱ سعیدہ ارم، اردو ناول میں تہذیبی شناخت، علامہ اقبال اوپن یونیورسٹی، اسلام اباد، ۲۰۱۰ء، صفحہ ۲۵

۱۲ شبر، محمد شبر، لوظ، ۱۹۶۶ء، مخ ۱۱۷، ۱۱۴

۱۳ شبنم، محمد ابراهیم خان، ګلالۍ، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۵ء، مخ ۱

۱۴ وکیل حکیمزے، د سیند په غاړه تږي، پېښورعامر پرنټ اینډ پبلشرز، ۲۰۱۶ء، مخ ۴۳

۱۵ یاسر، اېم عنایت الله خان، ځلنده ارمانونه، پېښور، سپین زر پرنټنګ پریس، ۲۰۱۴ء، مخ ۱۸

۱۶ حکیمزے، بدرالحکیم، ډاکټر، د پښتونخوا لنډه مطالعه، پېښور، اعراف پرنټرز، ۲۰۱۹ء، مخ ۳۴

۱۷ شبر، محمد شبر، لوظ، ۱۹۶۶ء، مخ ۲۸

۱۸ شبنم، محمد ابراهیم خان، ګلالۍ، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۵ء، مخونه ۱۸۱، ۱۸۰

۱۹ حکیمزے، بدرالحکیم، ډاکټر، تورونه سازښتونه، پښتونخوا پریس، ۲۰۱۹ء، مخ ۱۰۸

۲۰ یاسر، اېم عنایت الله خان، ځلنده ارمانونه، پېښور، سپین زر پرنټنګ پریس، ۲۰۱۴ء، مخونه ۴۴۸، ۴۴۷